# د سیدانو برکتونه

**10-July-2025**

هفته‌وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)



پهٔ 10 جولائي، کال 2025ء (بمطابق: 14 مُحَرَّم شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د سیدانو برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اهلِ بیتو نه مُراد څوک---؟
- د سیّد صاحب زیارت عبادت دے
- د سیدانو صاحبانو د خِدمت اَجر
- رښتونے عاشقِ اهلِ بیت څوک---؟

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

راځئ چې د سلطانِ کربلا، سيّدُ الشهداء، امامِ عالي مقام، اِمام حُسَین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه مروي دوه حديثونه واورو: (1): امام حُسَین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: زما نيکه بابا جان، د دواړو جهانو سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا پۀ مخکښې چې زما ذِکر وشي، بيا هغۀ پۀ ما باندې درودِ پاک اونه لولي: بے شکه هغۀ د جنَّت لاره هيره کړه-[1] (2): هُم د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، د دواړو جهانو تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کنجوس دے هغه کَس د چا پۀ خوا کښې چې زما ذِکر وشي، او هغۀ پۀ ما باندې درود اونه لولي-[2]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود اُن پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے[3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...معجم کبیر، جلد:2، صفحه:249، حديث:2818۔

2...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحه:811، حديث:3546۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:114۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښینم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## دوه آیتونه مبارک او د هغې وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** نن به مونږه اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د اهلِ بیتِ اطهار، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ اولاد مبارک ذِکرِ خیر اورو- راځئ چې د برکت او د هدایت حاصلولو د پاره وړومبے د قرآنِ پاک دوه آیتونه او د هغې وضاحت واورو:

وړومبے آیت مبارک: پۀ 22 سیپاره، سُورۀ اَحزاب، آیت: 33 کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا یُرِیۡدُ اللّٰہُ لِیُذۡهِبَ عَنۡکُمُ الرِّجۡسَ اَهۡلَ الۡبَیۡتِ وَیُطَهِّرَکُمۡ تَطۡهِیۡرًا ﴿۳۳﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے د نبي اهلِ بیتو! اللّٰه خو هم دا غواړي چې تاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او ښه صفا سوترا مو پاک کړي- |

دا ډیر مشهور آیت مبارک دے، دې ته **آیتِ تطهیر** وائي یعني هغه آیت مبارک پۀ کوم کښې چې د **اهلِ بیتِ اَطهار پاکي** بیان شوې دهـ- د دې آیت طرف ته پۀ اِشاره کولو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ورور مولانا حسن رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:

اُن کی پاکی کا خُدائے پاک کرتا ہے بیاں | آیۂ تطہیر سے ظاہِر ہے شانِ اَہۡلِ بیت

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

## د اهلِ بيتو نه مُراد څوک دي---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې آيت مبارک په باره کښې دوه خبرې په ذهن کښې کښېنوئ! **(1)**: د قرآنِ کريم په سياق و سباق (په مخکښينو وروستنو آيتونو) کښې د اهلِ بيتو نه مُراد د خوږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکې بيبيانې دي- په دې ځائے کښې هغوئي ته خطاب دے، هم هغوئي ته د پردې حکم کولے شي- ځکه د قرآنِ کريم په رڼا کښې په دې آيت کښې د اهلِ بيتو نه مُراد د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيبيانې دي- **(2)**: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ❀ سَيِّده فاطمه ❀ حضرت عليُّ المُرتضیٰ ❀ حضرت اِمام حَسَن ❀ او حضرت اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُم (او نورو پاک اولاد) هم په دې کښې شامل کړي دي ، ځکه د حديث شريف په رڼا کښې په دې فضيلت کښې اولاد مبارک هم شامل دي-[1]

## د اهلِ بيتو مَحَبَّت فرض دے

دويم آيت مبارک: په 25 سپاره سورهٔ الشُّوریٰ آيت نمبر 23 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰى ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ته وفرمايه: زهٔ په دې باندې تاسو نه څهٔ معاوضه نهٔ غواړم مګر د خپلوی محبت- |

**علّامه بغوي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **ليکلي دي:** د دې آيت مبارک يوه معنیٰ دا ده چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو وفرمايئ! (اے خلقو! زهٔ تاسو ته دِين ښايم، ستاسو د دُنيا او د اخرت خيرونه تاسو ته درسووم) په دې باندې زهٔ ستاسو نه هيڅ قِسمه څهٔ اَجر، هيڅ څهٔ بدله نهٔ غواړم، البته! زهٔ تاسو ته د خپلولۍ د محبت نصيحت کووم- د دې نه معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت، د هغوئي د خپلوانو سره محبت

1...الشرف المؤبد لال محمد، المقصد الاول...الخ، صفحه:11 بتقدم و تاخر بتصرف-

د دِين پهٔ فرائضو کښې دي۔ [1]

قلب میں عشقِ آل رکھا ہے | خوب اِس کو سنبھال رکھا ہے
جو بھی دیکھے بنے وہ دیوانہ | اُن میں ایسا جمال رکھا ہے

## د سَیِّد زاده زيارت عبادت دے

**اِمام حافظ مُحِبُّ الدِّين طَبَرَي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د 7 صدئ هجرئ بزرګ دے، ډير عِلمي شخصيت وو،په علمِ حديث کښې د هغوئي ډير لوئي مقام دے۔ هغوئي يو روايت ذِکر کړے دے۔ ليکلي يې دي چې: يو ځل د حضرت اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ طبعيت مبارک ناسازه شو (يعنې هغوئي بيمار شول)۔

دې لړ کښې د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ حضرت زبير بن عوَّام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته ووئيل: راځئ چې د اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د تپوس د پاره لاړ شو۔ حضرت زبير بن عوَّام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هم صحابئ رسول دے او ټولو صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!** د نيکو ډير حرص لرلو، البته هغه وخت به کيدے شي چې مصروفه وغيره وو، ځکه زبير بن عوام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ورسره د تللو نه انکار وکړو۔ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هغوئي له ترغيب ورکړو او اوئې فرمائيل: **اے زُبَيره---!! آيا تاسو ته معلومه نه ده چې د بنو هاشم تپوس له تلل سُنَّت او د هغوئي زيارت کول نفلي عبادت دے۔** [2]

کس زباں سے ہو بیان عزوشانِ اہل بیت | مدح گوئے مصطفٰی ہے مدح خوانِ اہل بیت

**وضاحت:** دا زمونږه غلامانو د وس خبره نه ده چې مونږ د اهل بيتِ اَطهَار رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم فضائل او برکات بيان کړو، د هغوئي فضائل خو د هغوئي **رب** کريم بيانوي.

سُبۡحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اهلِ بيتو مبارکو شان ثومره ځانګړے دے۔

---

1...تفسیرِ بغوی، پارہ:25، الشوریٰ، زیرِ آیت:23، جلد:4، صفحہ:81، ملتقطاً۔

2...ذخائر العقبی، الباب الثالث فی فضل بنی ہاشم، ذکر افترض...الخ، صفحہ:43 ۔

د هغوئي صرف زيارت کول هم د نفلي عبادت برابر دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه!-

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، د الله پاک پهٔ فضل سره سيدان صاحبان تقريباً پهٔ ټوله دُنيا کښې موجود دي، دا هم د هغوئي خصوصي شان دے- يزيد پليد د سيدانو صاحبانو د دُنيا نه د ختمولو ناپاکه کوشش کړے وو خو هغهٔ پخپله ختم شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اولاد مبارک اوس هم پهٔ ټوله دُنيا کښې موجود دے-

قتلِ حسین اصل میں مرگِ یزید ہے | اسلام زندہ ہوتا ہے ہر کربلا کے بعد

خير! سيدان صاحبان اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ ټوله دُنيا کښې دي، مونږ له پکار دي چې د هغوئي د زيارت سعادت حاصلوو- که سيّد صاحب بيمار شي نو د هغوئي د زيارت د پاره هم ځو او د دې نه علاوه هم وخت پهٔ وخت د هغوئي د زيارت د پاره حاضريدل پکار دي-

## صحابهٔ کرام او د اهلِ بيتِ اَطهار عَليهمُ الرّضوَان اَدب

د الله پاک د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ ترهٔ کاکا جان حضرت عبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د اهلِ بيتو نه وو ځکه چې به هغوئي) بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضريدلو نو د مسلمانانو وړومبے خليفه عاشقِ اکبر، حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د احترام پهٔ توګه د هغوئي د پاره ځائے پريښودو او ودريدلو به-(1)

**پهٔ روايتونو کښې دي:** چې که داسې به وشو چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ ترهٔ کاکا جان حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چرته پيدل تللو او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به پهٔ سورلۍ د هغوئي پهٔ خوا تيريدلو نو د هغوئي د تعظيم د پاره به د سورلۍ نه راکوزيدل، چې کله به حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تير شو نو بيا به پهٔ سورلۍ کښيناستل- (2)

---

1...معجم کبير ، جلد:5، صفحه:198، حديث:10527۔

2...الاستيعاب ج٢ ص٣٦٠۔

سُبْحٰنَ الله! **الله** پاک دې مونږ ته هم د سيّدانو د ادب کولو توفيق رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د وخت د خليفه د محبت انداز

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوک چې ډير لوئي ولئ کامِل، پۀ دې اُمَّت کښې ورومبے مُجَدِّد او د وخت خليفه تير شوے دے، هغوئي دومره پۀ کمال سره د خلافت فريضې ترسره کړې چې د هغوئي خِلافت هم پۀ خِلافتِ راشده کښې شميرلے شي- داسې زبردست خليفه وو- د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عادت مبارک وو چې سيدان صاحبان خو سيدان صاحبان دي، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کورنۍ سره لږ نسبت لرونکے چې به هم راغلو نو د هغوئي به يې ډير عزت کولو- صحابئ رسول دے: حضرت زيد بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- هغوئي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ اولاد کښې نۀ دي، البته خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته ځوي وئيلي وو- يو ځل د حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خاندان نه يو کَس د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دربار ته راغلو، خليفه صاحب چې څنګه هغوئي وليدل نو راپاڅيدو او هغوئي ته يې هر کلے ووئيلو او ډير عزت يې ورکړو او هغوئي يې پۀ خپل ځائے باندې کښينولو-(1)

سُبْحٰنَ الله! دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نسبت اَدَب دے- مونږ له هم پکار دي چې سيدان صاحبان پۀ راتللو ووينو، پۀ لاره کښې، پۀ جومات کښې، پۀ يو محفل وغيره کښې د هغوئي د زيارت شرف حاصل شي نو پۀ ادب سره، پۀ ښو ښو نيتونو کولو سره د هغوئي زيارت هم وکړو او ښه ډير ادب يې هم وکړو- او پۀ خپل ښار يا پۀ علاقه کښې چې سيدان صاحبان وي، وخت اوباسو او د هغوئي د زيارت د پاره حاضري هم کوو- پۀ ذهن کښې ساتئ چې د هغوئي د زيارت د پاره تلل پکار دي خو پۀ هغوئي خِدمت نۀ دي

1...تاريخ الخلفا، عمر بن عبد العزيز، صفحه:153-

کول پکار، بلکې د هغوئي په خِدمت کولو خپل اخرت ښه کول دي- څکه د هغوئي د زيارت د پاره حاضريږئ، د هغوئي خِدمت هم کوئ او که کيدے شي نو څهٔ نا څهٔ نذرانه ورته هم پيش کوئ- ظاهره ده چې زمونږ سره چې څهٔ هم دي د هغوئي د نيکه بابا جان دي- چې مونږه د هغوئي د خدمت سعادت حاصل کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د هغوئي نيکه بابا جان به خوشحاله شي او زمونږه بيړئ به پار کړي-

## د سیدانو صاحبانو د خِدمت اَجر

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: څوک چې د عبد المُطلب پهٔ اولاد کښې د چا سره نيکي وکړي فَعَلَیَّ مُکَافَاتُہٗ غَدًا اِذَا لَقِیَنِی پس چې کله هغهٔ د قيامت پهٔ ورځ زما سره ميلاؤ شي، زهٔ به د دې صِله ورکووم-(1)

د دې **حديثِ پاک** لاندې اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ 2 ډيرې د کمال خبرې ذِکر کړې دي (1): فرمائي: محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِذَا لَقِیَنِیْ يعنې د قيامت پهٔ ورځ چې کله هُغه کَس زما سره ميلاؤ شي- د دې نه معلومه شوه چې کوم کَس د سيدانو صاحبانو سره ښيګړه وکړي، که ايمان سلامت يوسي نو د قيامت پهٔ ورځ به د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ملاقات سعادت ضرور حاصلوي-(2)

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې دا څومره لوئي سعادت دے- د قيامت وحشت ناکه ورځ، ډيره سخته ګرمي، توده زمکه، وور ورونکے نمر، د قهر سره مخ کيدل، ورسره ورسره به د يو يو عمل حساب هم کيږي- اندازه ولګوئ چې پهٔ داسې حالت کښې که د خوږ محبوب د ښکلي ښکلي مخ مبارک د ليدو، د خوږ محبوب د رحمت د جولۍ سعادت حاصل شي نو بيا نور څهٔ پکار دي---!! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! هم د دې يو کرم سره به د قيامت ټول منزلونه اسان شي-

1...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:395، حديث:1446-

2...فتاوٰی رضويه، جلد:10، صفحه:105-

(2): اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ دویمه ایمان تازه کوونکې نکته لیکلې ده چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وعده فرمائي چې چا د اهلِ بیتِ پاک سره ښیګړه وکړه، د قیامت په ورځ باندې به زۀ (مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پخپله د هغې بدله عطا کووم-(1)

د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چا د عطاګانو او سخاوتونو چې دا حالت دے چې

دھارے چلتے ہیں عطا کے، وہ ہے قطرہ تیرا
تارے کھلتے ہیں سخا کے وہ ذرّہ تیرا (2)

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د سخاوت د یو څاڅکي دا حالت دے چې لکه څنګه چې دریابونه چیپې وهي، د هغوئي په عطا کړے شوي ذره کښې داسې پرقا ده لکه چې د سخاوت ستوري روښانه شوي وي-

سُبْحٰنَ الله! اوس غور وکړئ چې د چا عطاګانې دومره کمالي او بے مثاله وي، کوم چې یو څاڅکے عطا کړي نو د ډیرو نسلونو د پاره کافي شي- هٰغه خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله د قیامت په ورځ د عطاګانو دروازه برسیره کړي نو څۀ څۀ به عطا کوي---!!

تیرے صدقے مجھے اِک بُوند بہت ہے تیری
جس دِن اچھوں کو ملے جام چھلکتا تیرا (3)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اهلِ بیتو سره د ښیګړې عظیم اِنعام

په روایتونو کښې دي: حضرت عَلِي بن اِبراهیم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ورو مالداره سوداګر وو- یوه ورځ د هغۀ نه یو سید صاحب څۀ ورۀ وغوښتل- هغه سوداګر وو نو ورته یې ووئیل چې

1...فتاوی رضویه، جلد:10، صفحه:105مفهوماً-
2...حدائقِ بخشش، صفحه:15-
3...حدائقِ بخشش، صفحه:18-

پيسې راوړئ! سيد صاحب ووئيل چې زما سره مال نشته- تۀ زما دا قرض زما د نيکه بابا جان مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې وليکۀ- حضرت علي بن اِبراهيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي له ورۀ ورکړل او دا قرض يــې د الله پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذِمه وليکلو- د دې معاملې نه چې کله نور سيدان صاحبان خبر شو نو هغوئي هم ورۀ واخستل، قرض د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم مبارک باندې وليکلے شو- دا لړۍ روانه وه- تر دې پورې چې د حضرت علي بن ابراهيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره مال ختم شو او هغۀ غريب شو-

هغوئي پۀ دې پريشانۍ کښې وو چې يوه شپه اودۀ شو نو بخت يــې رابيدار شو، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: که تا زما سره معامله د دُنيا د پاره کړې وي نو زۀ تا له د دې بدله هم اوس پوره پوره درکووم او که تا زما سره معامله د اخرت د پاره کړې وي نو صبر وکړه! بے شکه زما سره ډيره ښه بدله ده- دا چې يــې واوريدل نو حضرت علي بن اِبراهيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ سلګو شو او پۀ ژړا ژړا د خوب نه رابيدار شو- بيا د هغوئي زړۀ د دُنيا نه تور شو، بيا د ځنګلونو او غرونو طرف ته لاړو- يو څو ورځې پس هغوئي د غر پۀ غار کښې پۀ وفات شوي حالت کښې ميلاؤ شو- خلقو هغوئي راوچت کړو او د جنازې وغيره نه پس يــې دفن کړو- پۀ هٔغه شپه 7 نيکانو کسانو پۀ خوب کښې حضرت علي بن ابراهيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ريښمو پۀ ښنو قيمتي جامو کښې وليدو چې هغوئي د جنَّت پۀ باغونو کښې ګرځي، هغوئي ترينه پوښتنه وکړه: اے علي بن ابراهيم! ستاسو دا انعام څنګه نصيب شو؟ اوئې فرمائيل: چا چې د حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره معامله وکړه هغۀ هٔغه بياموندل څۀ چې ما وموندل، پوهه شئ چې بے شکه ما د خپل صبر پۀ سبب د الله پاک د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ بياموندو-(1)

---

1...شرفُ المصطفیٰ، جلد:3، صفحه:217216-

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم د سيدانو صاحبانو سره نيک سلوک کوو- پهٔ دې باره کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې کوم انداز دے، واقعي چې د کمال دے-

## د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بے کچه محبت

يو ځل حضرت اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کور ته تشريف راوړو- چې کله ورسيدو نو مخکښې منظر څهٔ داسې وو چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ کمره کښې دننه دے او څهٔ خاص مصروفيت يې وو د کوم پهٔ وجه چې چا ته د دننه تللو اجازت نهٔ وو- د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شهزاده حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما دننه د راتللو اجازت وغوښتو، هغوئي هم منع کړے شو-

اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې کله دا وليدل نو پټ پټ يې واپس تشريف ورلو- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې کله د هغوئي د راتلو نه خبر شو نو فوراً يې کور ته د تشريف راوړلو دعوت وليږلو- هغوئي تشريف راوړو- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه وکړه: شهزاده حُضُور! واپس مو ولې تشريف يوړلو؟ اوئې فرمائيل: ما سوچ وکړو چې سَکه ځوي ته د دننه تللو اجازت نشته نو ما ته به ولې وي؟

دلته چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کومه جمله ارشاد کړه، واقعي چې د کمال خبره ده، اِحسان منل دې ته وئيلے شي- هغوئي وفرمائيل:

اَنْتَ اَحَقُّ بِالْاِذْنِ مِنْهُ

يعني تاسو زيات حق دار يئ چې تاسو ته د تشريف راوړلو اجازت درکړے شي- ولې؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې

وَهَلْ اَنْبَتَ الشَّعْرُفِی الرَّاْسِ بَعْدَ اللهِ اِلَّا اَنْتُم

زمونږ پهٔ سرونو باندې چې کوم ويښته دي، د الله پاک نه پس هم ستاسو په سبب

راڅرګندېدلي دي-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښه خبره ده، مطلب دا دے چې **الله** پاک چې مونږ ته د وړو نه واړه، د لوئيو نه لوئي کوم نعمتونه راعطا کړي دي، د **محبوبِ** کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او هم د هغوئي د آلِ پاک له برکته ده-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا مبالغه نۀ ده- واقعي چې رښتيا خبره ده، مونږ ته چې څۀ ميلاؤ شوي دي، تر دې پورې چې کومې ساه کاني اخلو، دا هم د سيدانو صاحبانو د نيکه بابا جان **محبوبِ** ذيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکت دے- بلکې که رښتيا وايم، زمونږه او ستاسو به څۀ حيثيت وي، **الله** پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته فرمائيلي وو: لَوْلَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُكَ يعني اے آدم عَلَيْهِ السَّلَام! که **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نۀ وے نو ما به تاسو هم نۀ وے پيدا کړي-(2)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

| | |
|---|---|
| ہوتے کہاں خلیل و بنا، کعبہ و مِنٰی | لَولاک والے صاحبی سب تیرے گھر کی ہے |
| بےاُن کے واسطے کے خُدا کچھ عطا کرے | حاشا! غلط غلط یہ ہَوَس بےبصر کی ہے(3) |

**وضاحت:** يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که تاسو نۀ وے نو نۀ به حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړو، نۀ به کعبه وه، نۀ به منیٰ وه نۀ به د نورو اسلامي شعائرو څۀ وجود وو، دا ټولې ښکلاګانې ستاسو پۀ وجه دي، څوک چې دا سوچ کوي چې **الله** پاک د هغوئي د وسيلې نه بغير څۀ عطا کوي هغوئي پۀ غلطۍ باندې دي، څۀ چې هم ميلاؤيږي د هغوئي پۀ وجه ميلاؤيږي-

بهر حال! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** سيدان صاحبان زمونږه د سرونو تاجونه دي،

1...الصواعق المحرقه، الباب الحادی عشر، الفصل الاول...الخ، المقصد الخامس...الخ، صفحه:222۔
2...دلائل النبوة للبیهقی، باب ماجاء تحدث...الخ، جلد:5، صفحه:489۔
3...حدائقِ بخشش، صفحه:203 و 207 ملتقطاً۔

مونږ ته چې څۀ میلاؤ شوي دي د هغوئي د نیکه بابا جان پۀ وسیله میلاؤ شوي دي- ځکه مونږ له پکار دي چې د زړۀ د اخلاصه د هغوئي مدد وکړو- بلکې رښتیا خبره عرض کړم: د سیدانو صاحبانو چې کوم مقام او مرتبه ده، که د هغې مطابق وکتے شي نو مونږه د هغوئي خدمت هډو کولے نۀ شو- دا خو بس یوه وړه شان نذرانه ده کومه چې مونږه د هغوئي پۀ خدمت کښې پیش کولے شو-

## د سیِّد د نوم نذرانه

خواجه غُلام فرید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوټ متهن شریف والا، ډیر لوئي بزرګ تیر شوے دے، یو ځل چا د لندن نه یوه ګړی راوړه او هغوئي ته یـې پیش کړه، ډیره قیمتي ګړی وه، پۀ هغې کښې ډیرې آلې هم لګیدلي وې، د موسم پۀ باره کښې معلومات، د طوفان او زلزلې پۀ باره کښې معلومات او د قبلې اړخ وغیره هر څۀ د دې ګړی پۀ ذریعه معلومیدے شو، د هغه وخت پۀ لحاظ سره تقریباً د 25 نه تر 30 زرو روپو پورې قیمتي ګړی وه-

یو ځل یو سید صاحب وفرمائیل: دا ګړی ما له راکړئ! خواجه غُلام فرید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً ګړی هغوئي ته پیش کړه- یو مُرید ورته عرض وکړو: حُضُور! دا خو ډیره قیمتي او نایابه ګړی وه، داسې ګړی به درته بیا میلاؤ نشي- تاسو به سید صاحب له څۀ پیسې ورکړي وے، ګړی به مو ورله نۀ ورکوله او هسې هم څۀ پته لګي چې هغۀ واقعي سید صاحب وو که نۀ؟ خواجه غُلام فرید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائیل: ما د سیِّد نوم (یعنې د لفظِ سیِّد) په ادب کښې نذرانه پیش کړه، د سید ذات د نذرانې د پیش کولو طاقت پۀ ما کښې چرته دے---؟ (1)

کیا پیش کروں تم کو کیا چیز ہماری ہے | یہ دل بھی تمہارا ہے یہ جاں بھی تمہاری ہے

---

1...انوارِ قمریه، صفحه:290۔

# د سيدانو صاحبانو پۀ عزت او فضيلت باندې حديثونه مبارک

د سيدانو صاحبانو پۀ عزت او فضيلت باندې يو څو حديثونه مبارک واورئ!

(1): خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خپل اولاد ته درې خبرې وښايئ: ❀ د خپل نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت ❀ د اهلِ بيتو محبت ❀ او د قرآن تلاوت۔[1]

(2): د مسلم شريف پۀ روايت کښې دي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زۀ پۀ تاسو کښې 2 عظيم (يعنې لوئي) څيزونه پرېږدم ❀ پۀ هغې کښې ورومبے خو د **الله** پاک کتاب (يعنې قرآنِ کريم) دے پۀ کوم کښې چې هدايت او نُور دے، تاسو د **الله** پاک پۀ کتاب (يعنې قرآنِ کريم) باندې عمل کوئ او دا مضبوط ونيسئ ❀ دويم زما اهلِ بيت دي، او درې کرته يې ارشاد وفرمائيلو: **زۀ تاسو ته د خپلو اهلِ بيتو پۀ باره کښې الله پاک در يادووم۔**[2]

اِمام شرف ا لدين طِيْبِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْہ فرمائي: معنیٰ دا ده چې تاسو د خپلو اهلِ بيتو د شان پۀ باره کښې د **الله** پاک نه ويرووم او تاسو ته وايم چې تاسو د **الله** پاک نه ويرېږئ، هغوئي له تکليف مۀ ورکوئ بلکې د هغوئي حفاظت کوئ۔[3]

حبِّ اہلِ بیت دے، آلِ محمدؐ کے لئے | کر شہیدِ عشق، حمزہؓ پیشوا کے واسطے

(3): د حسَنينو نيکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ نَفْسِهٖ، وَتَكُوْنَ عِتْرَتِيْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ عِتْرَتِهٖ**۔يعنې تر هغه وخته پورې څوک (کامِل) مؤمِن کيدے نشي تر څو پورې چې زۀ هغوئي ته د هغوئي د ځان نه زيات خوږ نشم او زما اولاد هغوئي ته د خپل اولاد نه زيات محبوب نۀ شي۔[4]

---

1...جامع صغير، صفحه:25، حديث:311۔

2... مسلم، کتاب فضائل الصحابه، باب من فضائل علی بن ابی طالب، صفحه:941، حديث:2408 ملتقطاً۔

3...شرح الطيبی، کتاب المناقب، باب مناقب اهل بيت النبی، جلد:11، صفحه:296، زيرِ حديث:6140۔

4...شعب الايمان ج۲ ص۱۸۹ حديث۱۵۰۵۔

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم | یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یا رسولَ اللہ

**(4)**: د نبیانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: پهٔ تاسو کښې به پهٔ پل صراط باندې د ټولو نه زیات ثابت قدم هغهٔ وي کوم چې زما د صحابؤ او اهلِ بیتو سره زیات محبت کوونکے وي۔ (1)

آل و اصحاب سے محبّت ہے اور سب اولیا سے اُلفت ہے
یہ سب اللہ کی عنایت ہے مل گئی مصطفٰے کی اُمّت ہے

## د دریو څیزونو د عزت حُکم

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: درې څیزونه داسې دي د کومو چې چا حفاظت وکړو، **الله** پاک به د هغهٔ د هغهٔ د دِین او دُنیا پهٔ معاملو کښې حفاظت وکړي او چا چې هغه ضائع کړه **الله** پاک به د هغهٔ پهٔ یوه معامله کښې هم حفاظت نهٔ کوي (1): د اِسلام عزت او احترام (2): زما عزت او احترام (3): زما د خپلوانو او عزیزانو عزت او احترام۔ (2)

اَللّٰهُ اَکْبَرُ! اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عاشقانو! دا حدیث شریف خو پهٔ ذِهن کښې کښېنوئ! پهٔ زړهٔ کښې یې ځائے کړئ! همیشه دا خپلې مخې ته ساتئ! کوم بنده چې د دریو څیزونو عزت کوي، **الله** پاک به د دُنیا پهٔ هره معامله کښې او د اخرت پهٔ هره معامله کښې د هغهٔ حفاظت فرمائي۔ څومره زبردست فضیلت دے۔ پهٔ دُنیا کښې زمونږه کارونه ودریږي، مشکلات راځي، بعضې وخت د ویرې ترخې ماحول هم جوړ شي، بیا د اخرت پهٔ باره کښې غور وکړئ۔ الله! الله! د اخرت خو هره معامله وحشت ناکه ده ✿ د قبر تنګ والے ✿ تیارهٔ ✿ تنهائي ✿ وحشت ✿ د قبر زورنه ✿ د مُنکر نَکِیر تشریف راوړل ✿ د قبر سوالونه ✿ بیا د قیامت پهٔ ورځ د قبر نه راپاڅیدل ✿ د **الله** پاک پهٔ حُضُور

1…جمع الجوامع ج۱ص۸۶ حدیث ۴۵۴۔

2…معجم کبیر، جلد:2، صفحه:247، حدیث:2812۔

کښې د حاضرۍ منظر ❁ د اعمال نامو ورکولو منظر ❁ د **الله** پاک په بارګاه کښې د ودرولو منظر ❁ د پل صراط مشکلات، الله! الله! د یو بل نه زیات مشکلات دي، تش وحشتونه دي- د دې مشکلاتو نه مونږه څنګه بچ کیدے شو؟ څنګه به نجات حاصلوو؟ زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اسان حل راښودلے دے، اوئې فرمائیل: د دریو څیزونو عزت کوئ! **الله** پاک به پخپله د دُنیا او د اخرت په هره معامله کښې ستاسو حفاظت وفرمائي- کوم کوم څیزونه دي؟ اوئې فرمائیل: (1): د اِسلام عزت کوئ! (2): زما (یعنې د مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) عزّت کوئ! (3): د اهلِ بیتِ پاک عزّت کوئ...!!

**الله** پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي- بزرګانِ دِین، د **الله** پاک نیکانو بندګانو به د سیدانو صاحبانو څومره عزت کولو، په څنګه ځانګړي انداز کښې به یې د هغوئي ادب کولو؟ راځئ چې واورو!

❁ شیخ ابراهیم رامپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه یو بزرګ تیر شوے دے، هغوئي سیِّد پور کرنال (هِند) ته تشریف راوړو، دغلته یې استوګنه اختیار کړه، دلته د راتلو نه پس به هغوئي په کټ کښې نۀ اوده کیدل، خلقو چې ترینه د دې د سبب پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائیل: په دې علاقه کښې بعضې سیدان صاحبان داسې هم شته چې د هغوئي سره کټونه نشته، هغوئي په زمکه باندې اوده کیږي، چې سیدان صاحبان (په خپلو خپلو کورونو کښې) په زمکه باندې ارام فرمائي نو زۀ څنګه په کټ کښې ښپې کیږدم، دا د اَدب خلاف دي-

❁ شیخ ابراهیم رامپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه به د جَامَنو د ونې د لاندې په عبادت کښې مصروف وو، بعضې وخت به وړو وړو ماشومانو سیدانو تشریف راوړو، د باغ ونې به یې په کاڼو ویشتلې او میوې به یې راشوکولې او خوړلې به یې، چې کله به په یو کاڼي باندې شیخ ابراهیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ولګیدو نو دا به یې سعادت ګڼلو، تر ډیرې مودې پورې خو هغوئي په دې معامله باندې صبر کولو خو چې کله یې صبر تمام شو نو سیدانو

صاحبانو ته خو یې هیڅ اونه وئیل خو ونو ته یې وفرمائیل: اے وَنو--!! زۀ د سیدانو صاحبانو د ادب خیال ساتم، زۀ هغوئي ته هیڅ نشم وئیلے، تاسو بیا میوه مۀ کوئ! د هُغه ورځې نه پس هُغه وَنو میوې پرېښودلې۔ (1)

❀ شیخ اَمان پاني پتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم نیک بزرګ تیر شوے دے، هغوئي فرمائي: زما پۀ نزد درویشي د 2 څیزونو نوم دے: (1): ښه اخلاق (2): د اَهلِ بیتو محبت۔ یعنې د کوم خوش قِسمته چې دا دوه نعمتونه نصیب شي، هغۀ اوچته مرتبه حاصلوي۔ پۀ اَخبَارُ الاَخیَار کښې شیخ عبد الحق محدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: د شیخ امان پاني پتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عادت مبارک وو، چې کله به هغوئي سبق ښودلو او پۀ هُغه وخت کښې به چرته یو سید ماشوم پۀ لوبو کښې کوڅې ته تشریف راوړو نو هغوئي به کتاب کېښودو او د ادب نه به ودریدو، تر څو پورې چې به سید صاحب موجود وو، هغوئي به هم داسې ولاړ وو۔ (2)

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي۔ کاش چې مونږه هم د سیدانو صاحبانو پۀ صحیح معنو کښې ادب کوونکي جوړ شو۔

## د سیدانو صاحبانو یو څو آداب

د الله پاک پۀ نیکانو بندګانوکښې یو نوم د حضرت علي خوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم دے، هغوئي ډېر کامِل ولي وو، د سیدانو صاحبانو پۀ ادب باندې به یې ډېر زور راوړو، فرمائي: د سیدانو صاحبانو پۀ حقونو کښې دا حق هم دے چې پۀ هغوئي باندې خپل ځانونه قربان کړې ځکه چې دوئي د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځیګر ټوټې دي ❀ د سیدانو صاحبانو پۀ آدابو کښې دي چې د هغوئي پۀ مخکښې ځان ته اونه ګورې (یعنې د هغوئي پۀ مخکښې د ډېرې عاجزۍ نه کار واخلې، خپل ضرورتونه پۀ هغوئي باندې قُربان کړې) ❀ خپل ځان له پۀ هغوئي باندې ترجیح ورنکړې ❀ که د سید صاحب سره عِلم هم نۀ وي، بیا

1...اقتباس الانوار، صفحه:744و745 خلاصةً۔

2...اخبار الاخیار، شیخ امان پانی پتی رَحمةُ اللهِ عَلَیْه، صفحه:241 ملتقطًا۔

هم د هغوئي ادب وکړي ❁ **حضرت علي خوّاص** رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ **نور فرمائي**: پهٔ خپلو خواهشاتو باندې د سیدانو صاحبانو رضا له فوقیت ورکړي او د هغوئي پوره عزت وکړي او چې کله هغوئي پهٔ زمکه باندې ناست وي نو پهٔ کټ کښې هیڅ کله هم مهٔ کښینې۔ (1)

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! دا دي د سیدانو صاحبانو آداب--!! **اللّٰہ** پاک دې مونږ ته د اهلِ بیت پاک سره، د آلِ مصطفٰے سره د ښه ډیر محبت کولو، د هغوئي د ادب او د احترام کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## رښتونے عاشقِ اهلِ بیت څوک---؟

پهٔ اخره کښې یو اهم وضاحت واورئ! مونږ له د اهلِ بیتِ پاک سره محبت کول پکار دي خو د اهلِ بیتو رښتونے محبت څهٔ ته وئیلے شي؟ پهٔ دې هم ځان پوهه کړئ! **روایت دے**: یوه ورځ حضرت امیرِ معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خطبه ورکوله، پهٔ دې کښې اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشریف راوړو، حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ زر خطبه مکمل کړه او د منبر نه لاندې راکوز شو، بیا حضرت امامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ منبر تشریف کېښودو، هغوئي د **اللّٰہ** پاک حمد او ثنا بیان کړه، بیا یې وفرمائیل: ما ته زما نیکه بابا جان ووئیل چې **اللّٰہ** پاک فرمائي: د عرشِ اعظم د ښي د لاندې یوه شنه تخته ده، پهٔ هغې باندې لیکلي دي: اے د آلِ مُحَمَّد ډلې! پهٔ تاسو کښې چې څوک هم د قیامت پهٔ ورځ د لَاۤ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ پهٔ ګواهۍ ورکولو راشي، **اللّٰہ** پاک به هغهٔ جنّت ته داخله کړي-

پهٔ دې اوریدو حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پوښتنه وکړه: اے ابو عبد الله (یعنې اِمام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ)! د آلِ مُحَمَّد ډله څوک دي؟ اوئې فرمائیل: هغه کوم چې د **شَیخَین** یعنې ابو بکر او عمر، عثمانِ غني، زما والدِ محترم مولیٰ علي او اے مُعَاویه! تاسو ته ردې بدې نهٔ وائي، هغه د آلِ مُحَمَّد ډله ده۔(2)

---

1...تنویر الازہار ترجمہ نور الابصار، جلد:1، صفحه:363و364 خلاصةً۔

2...تاریخ دمشق، جلد:14، صفحه:114۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې څوک د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان هم ادب کوي، د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خلورو يارانو هم ادب کوي او د خَالُ المُؤمِنِين (يعنې د ټولو مسلمانانو د ماما جان) حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ خلاف هم خبرې نهٔ کوي، هغهٔ د اهلِ بيتو رښتونے عاشق دے۔

الله پاک دې مونږه د صحابهٔ کرامو او د اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللہُ عَنْهُم ادب کوونکې، رښتوني عاشقان جوړ کړي او د هغوئي د دښمنۍ او ګستاخۍ نه مو دې هميشه محفوظ وساتي۔ اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

محفوظ سَدا رکھنا شَہَا! بے‌ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے‌ادبی ہو[1]

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! نن د فتنو نه پهٔ دې ډک دور کښې د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پهٔ زړونو کښې د عشقِ رسول رابيدارولو، د نيکۍ د دعوت ورکولو او د اُمت د نيک نـمونځ ګزاره جوړولو پهٔ کوشش کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دِين او د دُنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي۔

پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دي۔

❁ **د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي۔** ❁ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د سحر د نـمونځ د پاره تللو نو اودهٔ [خلق] به يې راپاڅول۔[2] ❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ هم دغه انداز وو[3] او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه

1...وسائلِ بخشش، صفحه:315۔
2...ابو داؤد، صفحه:208، حديث:1264۔
3...مشکاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240 ماخوذاً۔

حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې عمل کولو۔ (1)

❁ تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ! د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! ډېر برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو پخپله به درته هم د جَمعې سره د سحر د نـمونځ کولو سعادت درنصيب کيږي ❁ سحر سحر به مو د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصيب کيږي ❁ ستاسو پهٔ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم ميلاويږي او اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي۔ ❁ سحر وختي به درته د پيدل تللو موقع ميلاويږي نو صحت به مو هم ښه کيږي ❁ يوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډېر راځي، د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې مونږ پهٔ يخنۍ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زيات شول چې د جومات پهٔ دالان کښې مو ورته شامياني [يعنې تمبوان] ولګول۔ سُبْحٰنَ اللّٰہ!

هيڅ ګرانه نه ده، د جَمعې د وخت نه 20، 25 منټه مخکښې راپاڅئ! د سحر د نـمونځ د پاره خو هسې هم ځئ، اواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **اللّٰہ** پاک پهٔ فضل سره به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم درنصيب شي۔ نيت وکړئ چې اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاڅووم۔ راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته يو مَدَنې سپرلے بيان کړم۔

## د حضور انور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار نه بلنه راغله

د قصور (پنجاب پاکستان) د يو اوسېدونکي اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! زه د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره وابسته ووم، خو په ديني کارونو کښې په سستۍ کښې ګير وم. د محرم شريف 1431 هجري مطابق د جنوري 2010ء خبره ده چې يو ذمه دار اسلامي ورور په ديني کارونو کښې خصوصاً د سحر [نمانځهٔ] د پاره په

1...تاریخ الخلفاء، صفحه:112ماخوذاً۔

راپاڅولو والا ديني کار کښې د پابندۍ کولو ترغيب راکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما د سحر د پاره راپاڅول شروع کړل، اَلْحَمْدُلِلّٰه! په ما باندې د **اللّٰه** پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم وشو، په هُم هغه کال ماته د خوږ مصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې د حاضرۍ شرف حاصل شو.

کروں دم بدم میں ثنائے مدینہ | لگاتا رہے دل صدائے مدینہ
لگا فجر میں بھائی گھر گھر پہ جاکر | ذرا دل لگا کر صدائے مدینہ[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دين په فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔

په دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته ميلاويږي: په کښې شمير د مذهبي او معاشرتي پوښتنو ليکلي فتاوىٰ ❁ د عقيدو په باره کښې حکمونه ❁ د قرآن او حديث په باره کښې حکمونه ❁ د اوداسه، غسل او د ناپاکۍ حکمونه ❁ د نمونځ په باره کښې مسئلې ❁ د مَرِي په باره کښې مسئلې ❁ د دعوتِ اِسلامي د مفتيانو صاحبانو اهم تربيتي او معلوماتي ويډيوکليپس او بيانونه ❁ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټيکلز او کتابونه ❁ د مفتيانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ❁ تجارت کورس، د فرض علومو کورس ❁ او ډير څهٔ- دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:369۔

# يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس به تقريباً 9:45 بجې پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ✿ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د اميرِ اهلِسُنَّت مشر ورور** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ✿ د کربلا واقعه د اسلام په تاريخ کښې د صبر، استقامت او په حق باندې د کلک اودريدو عظيم مثال دے. دا واقعه صدر الافاضل مولانا مفتي نعيم الدين مرادآبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل ايمان تازه کوونکې کتاب "**سوانحِ کربلا**" کښې په ډير خوږ انداز ليکلې ده. مکتبةُ المدينه دا کتاب شائع کړے دے، تاسو دا کتاب د **مکتبةُ المدينه** د هرې څانګې نه په **200 روپو** په قيمت طلب کړئ. په خپله يې هم ولولئ! او نورو ته يې هم ترغيب ورکړئ! ✿ د مجلِسِ تقسيمِ رسائل له طرفه د **محرم شريف** په نسبت د علم او عمل د ودې د پاره په بهترينو کتابونو او رسالو مشتمل 2 خصوصي پيکيجز وړاندې کيږي: ✿پيکيج نمبر 1 **(صرف په 100 روپو)**: 1 عدد د تيرو کلونو ماهنامه (عام)، 2 عدده منتخب کړے شوې رسالې ۞پيکيج نمبر 2 (صرف په 200 روپو کښې): 1 عدد د تيرو کلونو ماهنامه (خاص) 3 عدده د لوئي سائيز او 1 عدد وړه رساله. د دې پيکيجز مقصد د

اسلامي معلوماتو عامول او د **محرم شريف** عظمت او پیغام کور کور ته رسول دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د زُلفو او د سر د ویښتو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د چا چې ویښته وي هغهٔ دې د هغې اِکرام وکړي- (2) یعني هغهٔ دې وینځي، تیل دې ورکوي [یعني غوړوي دې] او ګمنځوي دې-

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نیمې پورې ❁ کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصې پورې او ❁ بعضې وخت به چې غټ شول نو د اوګو مبارکو یعني د اوګو مبارکو سره به ئې لګیدل ❁ مونږ له پکار دي چې موقع پهٔ موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، یعني کله د غوږونو د نیمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو پورې او کله تر اوګو پورې ویښته اوساتو ❁ بعضې خلق [پهٔ ویښتو کښې] ښي طرفته یا ګس طرفته لاره [یعني کربنه] اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ❁ سُنَّت دا دي چې که چرې پهٔ سر باندې ویښته وي نو پهٔ مینځ کښې دې لاره [یعني

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...ابو داؤد، كتاب الترجل، باب في اصلاح الشعر، صفحه:653، حديث:4163۔

کربنه] ويستلے شي ❁ د نارينه سره اختيار دے چې د سر ټول ويښته وخَرَئي يا يــې غټ کړي او پۀ مينځ کښې يــې لاره [يعني کربنه] اوباسي ❁ حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پۀ سر مبارک اکثر تيل لګول [يعني ويښته به يې غوړول] او ګيره مبارکه به يــې اکثر ګمنځوله او اکثر به يــې پۀ سَر مُبارک باندې کپړه(يعني سربند شريف) تړله تر دې پورې چې کپړه به پۀ تيلو لـمديدله - (1)

تیل کی بُوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا | صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہیں ستارے گیسو

**وضاحت:** اے رضا! د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو نه چې د تيلو کوم څاڅکي کيږي، ما ته خو دا ننداره داسې لګي لکه څنګه چې د ستورو ډکه شپۀ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مخ مبارک باندې، پۀ **رُخِ وَالضُّحٰی** باندې ستوري نولي-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنۡ شَآءَ الله سر بسَر
تیس تیس اور بارہ بارہ دن کے مدنی قافلے | میں سفر کرتے رہو جب بھی تمہیں موقع ملے

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 41 تا 43 ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[2] راځئ

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصاً
2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

---

1...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵